قرآني بيان

د خوږ اقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم
د الله پاک سره محبت

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اسلامي)
د انتظام د لاندېجوماتونو د پاره



په 11 ستمبر، کال 2026ء
(بمطابق: 28 ربيع الاول، کال 1448ھ)
د جُمعةُ المبارک

د مَدَنی مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي)د انتظام د لاندې جوماتونو د پاره

پۀ 11 ستمبر، کال 2026ء (بمطابق: 28 ربیع الاول، کال 1448ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بیان

پۀ نوم

د خورِ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک سره محبت

پۀ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د ماشومتوب شریف یوه عجیبه واقعه
- د 40 کلن ژوند مبارک اهمیت
- د لفظ ضَالّ صحیح وضاحت
- د ماشومتوب مبارک یو څو عادتونه

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ط وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمہ: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

د دُرُودِ پاک فضیلت

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم:

مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ حِيْنَ يُصْبِحُ عَشْرًا وَحِيْنَ يُمْسِيْ عَشْرًا اَدْرَكَتْهُ شَفَاعَتِيْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې په ما باندې سحر او ماښام 10، 10 کرته دُرُود شریف ولوستو د هغۀ به د قیامت په ورځ زما شفاعت نصیب کیږي۔ (1)

کہیں گے اور نبی اِذْهَبُوْا اِلٰى غَيْرِيْ | مرے حضور کے لب پر اَنَا لَهَا ہو گا (2)

وضاحت: د قیامت په ورځ چې به کله خلق د مختلفو انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام په خِدمت کښې د شفاعت د سوال دپاره حاضر شي نو ټول نبیان به دا فرمائي: اِذْهَبُوْا اِلٰى غَيْرِيْ یعنې زما

1... مجمع الزوائد، کتاب الاذکار، باب ما یقول اذا اصبح واذا امسی، جلد:10، صفحه:120، حدیث:17022۔
2... ذوقِ نعت، صفحه:54۔

نه علاوه د بل چا خوا له لاړ شئ! خو چې کله دربار رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شي نو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به فرمائي: اَنَالَهَا،اَنَالَهَا د دې کار (يعني د شفاعت) د پاره هم زۀ يم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْكَرِيْم (الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي):

وَ وَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰى ۪ۗ (پاره: 30، سورۀ والضحیٰ:7)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صلّى اللهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او هغۀ تۀ پۀ خپله مينه کښې ورک وموندلې نو خپل طرف ته يې لار درکړه-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د تېرې جُمعې پۀ ورځ مونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بے مثله او بے مثاله کېدو شان مبارک اورېدلے وو، نن به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! مونږه د سورۀ وَالضُّحیٰ د آيت: 7 وضاحت او د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شانونو اورېدو سعادت حاصلوو-

د آیت مبارک مختصر وضاحت

الله پاک فرمائي:

وَ وَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰى ۪ۗ (پاره: 30، سورۂ والضحیٰ:7)	[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او هغۂ تۂ پۂ خپله مینه کښې ورک ومونديې نو خپل طرف ته يې لار درکړه۔

د دې آیت مبارک پۂ باره کښې د علم تفسیر د ماهرانو عالمانو دوه اقوال دي: وړومبے قول دا دے چې پۂ دې آیت کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ماشومتوب مبارک د یو خاص واقعې بیان دے۔ [1] هٰغه واقعه څۂ ده؟ واورئ!

د ماشومتوب شریف یوه عجیبه واقعه

د هٰغه وخت خبره ده، کله چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت حلیمه سعدیه رَضِیَ اللهُ عَنْها کره تشریف فرما وو، سیده حلیمه رَضِیَ اللهُ عَنْها به د خِدمت سعادت حاصلولو، یو ځل هغې رسولِ ذِیشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ځان سره کړو او مکے مکرمې ته یې بوتللو، کله چې د ښار دروازې ته ورسېدل نو وه یې لیدل چې د دروازې سره ډېر خلق راجمع شوي دي، ځکه لږه یو اړخ ته ودرېدله، دغه وخت هغې ته څۂ حاجت راپېښ شو، هغې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هلته ایسار کړو او د یو څو

1... تفسیر کبیر، پارہ:30، سورۂ بقرۃ، زیرِ آیت:7، جلد:11، صفحہ:197 خلاصۃً۔

منټو د پاره یو طرف ته لاړله- ناڅاپه هغې یو زورور اواز واورېدو، په منډه چې واپس راغله او وه یې کتل نو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هلته موجود نۀ وو- الله! الله! ګویا په هغې چې قیامت راغلو، ولړزېدله، اخوا دېخوا ګوري، د خلقو نه پوښتنه کوي: اے خلقو--!! آیا تاسو زما د سترګو تور لیدلے دے؟ آه! چا ته هیڅ پته نۀ وه، چا ته په دې باره کښې هیڅ معلومات نۀ وو-

دا د قیامت په شان ساعت وو، په زرګونو غېر مسلمه وو، چې هم د ماشوم والي نه یې خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پېژندلو،د نښو نه یې پېژندلو چې دا اخري دے، په زرګونو اهل کتاب د هغوي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شهید کولو موقعې لټولې- حضرت حلیمه سعدیه رَضِیَ اللهُ عَنْها هم د هغوئ ناکامه کوششونه لیدلي وو، کېدے شي چې هٰغه وخت یې دا ټولې خطرې په ذِهن کښې وې، ځکه حېرانه وه، د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په جُدایۍ کښې ډېره پرېشانه وه، په داسې حالت کښې هغې په سر باندې لاس کېښودو، په پرېشانۍ کښې کېناستله چې اخر څۀ به کووم، خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اخر چرته ولټووم---؟

فرمائي: ما په سر باندې لاس ایښودي وو، په پرېشانۍ کښې ناسته ووم په دې کښې یو بوډا ګس زما خوا له راغلو، وه یې وئیل: اے سعدیه! څۀ خبره ده؟ ولې پرېشانه یې---؟ ما ووئیل: زما د سترګو تور اوس دلته وو، اوس پته نۀ لګي چې چرته یې تشریف یوړلو- هٰغه بوډا ووئیل: مۀ وېرېږه، زۀ یو داسې ګس پېژنم، کوم چې تا ته د هغوئ پته ښودلے شي- هغې زر ووئیل: ووایه! هغه څوک دے---؟ بوډا ووئیل: هُبُل (یعنې هٰغه وړوکے شان بُت کوم چې قرېشو خُدائے منلو)- دا یې چې واورېدل نو د سیده حلیمه سعدیه رَضِیَ اللهُ عَنْها چې کوم اُمِید وو، هغه ختم شو، هغې په بے نیازۍ سره وفرمائیل: اے بوډا--!! ستا مور دې په تا

باندې وژاړي! ټۀ نۀ پوهېږي چې پۀ کومه شپه خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُنيا ته تشريف راوړلے وو، پۀ هٰغه شپه ستاسو پۀ هُبُل څۀ تېر شوي وو---؟ (هغه پرمخې راپرېوتے وو)- فرمائي: هٰغه بوډا زما خبره وا نۀ ورېدله او خپلې عبادت خانې ته لاړو- هغه د هُبُل نه 7 ځله تاؤ شوه، وه يې وئيل: اے هُبُله! دا سعديه ده! د دې ځوي مُحَمَّد پته نۀ لګي چې چرته دے؟ د هغه پته را وښايه---!! بس دومره وئيل وو چې څنګه خوږ ښکلے نوم مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) واخستے شو نو هُبُل پۀ زمکه پرمخې راپرېوتو- ګېر چاپېره چې هم څومره بُتان موجود وو، ټول پۀ يو بل باندې راپرېوتل او مات شول-

تیری آمد تھی کہ بیت اللہ مُجرے کو جھکا
تیری ہیبت تھی کہ ہر بُت تھر تھرا کر گر گیا(1)

وضاحت: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! کله چې تاسو تشريف راوړلو نو بيت الله شريف ستاسو د سلامۍ د پاره د حضرت آمنه رَضِيَ اللهُ عَنْها د کور طرف ته رابنکته شو او پۀ کعبه کښې د ايښودے شوو بُتانو دا حالت وو چې هغوئي پۀ زمکه راپرېوتل-

سيده حليمه رَضِيَ اللهُ عَنْها فرمائي: بيا هٰغه بوډا واپس زما خوا له راغلو، ړېچدو، د هغۀ د جامو د کړېچدو او د زنګونانو اوازونه ما پۀ خپلو غوږونو باندې اورېدل- وه يې وئيل: اے سعديه! مۀ پرېشانه کېږه---!! ستا د ځوي رَبّ ډېر عظيم دے، هغه به هغه نۀ ضائع کوي-

مُحَمَّد برائے جنابِ اِلٰہی!	جنابِ الٰہی برائے مُحَمَّد (2)

1... حدائقِ بخشش، صفحہ:52۔
2... حدائقِ بخشش، صفحہ:65۔

بيا سيده حليمه سعديه رَضِیَ اللهُ عَنْها زر د حضرت عبد المُطلب رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په خِدمت کښې حاضره شوه، ټوله واقعه يې بيان کړله، هغه هم ولړزېدو، توره يې راويستله، ډېر په غصه کښې بهر راوتلو، ټولو قريشو چې د هغوئ غصه وليدله نو وه وېرېدل، د هغوئ په خِدمت کښې حاضر شول، عرض يې اوکړو: اے زمونږ سرداره! مونږ ته چې څه حُکم کوئ، مونږ حاضر يو- حضرت عبد المُطلب رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نېغ حرمِ پاک ته ورسېدلو، د کعبې شريفې طواف يې اوکړو، بيا يې د الله پاک په دربار کښې عرض اوکړو:

يَا رَبِّ اِنَّ مُحَمَّدًا لَمْ يُوْجَدْ	فَجَمِيْعُ قَوْمِیْ كُلُّهُمْ مُتَرَدِّدٌ

ترجمه: اے الله پاکه! مُحَمَّدِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرته دے؟ مونږ ته پته نشته، ځکه زما ټول قوم پريشانه دے-

غېبي اواز راغلو: اے خلقو--!! غم مۀ کوئ! مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغۀ رَبّ هيڅکله هم نۀ ضائع کوي- (1)

د حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهما په روايت کښې دي: لا دا معامله روانه وه چې ابو جهل حرمِ پاک ته راورسېدو، هغه پۀ اوښه باندې ناست وو او د هغه نه مخکښې پۀ اوښه باندې خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف فرما وو، هغه چې څنګه راغلو نو وه يې وئيل: اے عبد المُطلبه--!! پته نۀ لګي چې ستا د دې ځوي نه به مونږ ته څۀ رارسېږي؟ زۀ تېرېدم، وه مې کتل چې مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) هلته موجود دے، ما اوښه کښېنوله، هغه

---

1 ... دلائل النبوة للبيهقي، باب ذكر رضاع النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ومرضعته، جلد: 1، صفحه: 144142 خلاصةً۔

مې پۀ ځان پسې کښېنولو نو اوښې ضد شروع کړو، ودرېدله نۀ، ما ډېر کوشش اوکړو خو تلل خو لويه خبره ده چې اوښه ودرېدله هم نۀ- بيا ما مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) مخې ته کښېنولو نو اوښه پاځېدله او روانه شوه-

سُبْحٰنَ اللہ! کويا اوښې دا وئيل چې اے بېوقوفو---!! مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! اِمام دے او اِمام ته شا کول بے ادبي وي-

گویا تھی اُس اُونٹنی کی یہ صدا	بے خبر! سرکار کو آگے بٹھا
جب تلک آگے نہ بیٹھیں گے نبی	میں قیامت تک نہ اُٹھوں گی کبھی

حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُما فرمائي: د حضرت موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام دا شان وو چې الله پاک د هغوئي حفاظت د مصر د فرعون پۀ ذريعه اوکړو، د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ حق کښې هم د دې شان اِظهار اوکړے شو چې که ابو جهل غوښتل او که نۀ غوښتل، الله پاک پۀ هغۀ باندې د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خِدمت کړے دے- (1)

علمائے کرام فرمائي: دا هٰغه واقعه ده د کوم طرف ته چې پۀ دې آيت مبارک کښې اِشاره شوې ده چې

وَ وَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰى ۪ۙ (پارہ: 30، سورۂ الضحیٰ: 7)	[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او هغۀ تۀ پۀ خپله مينه کښې ورک وموندلې نو خپل طرف ته يې لار درکړه-

1... تفسیر کبیر، پارہ: 30، سورۂ ضحیٰ، زیرِ آیت: 7، جلد: 11، صفحہ: 198 مفصلاً۔

مطلب دا جوړېږي چې اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو ماشومتوب شريف وو، تاسو يواځې چرته تشريف وړے وو، نېکه بابا جان حضرت عبد المُطلب رَضِیَ اللهُ عَنْهُ هم درسره نۀ وو، سيده حليمه سعديه رَضِیَ اللهُ عَنْها هم درسره نۀ وه، د زرګونو دښمنانو خطره وه، پۀ هغوئ کښې د چا لاس ستاسو جولۍ مبارکې ته دروغزېږي، دا خو ډېره لويه خبره ده، ابو جهل بد بخته چې ستاسو طرف ته د شا کولو جرأت اوکړو نو رَبِّ رحمان دا هم خوښه نۀ کړه، ستاسو رَبّ کريم--!! چې تاسو هٰغه وخت يواځې پرې نۀ ښودلی، اوس به هم پۀ تاسو باندې کرم نۀ بندوي، ځکه اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! تسلي ساتئ! تاسو د خپل رَبّ پۀ نزد ډېر لوئي مقام لرئ۔

میں قربان کیا پیاری پیاری ہے نسبت	یہ آنِ خدا وہ خدائے مُحَمَّد
مُحَمَّد کا دَم خاص بہرِ خدا ہے	سِوائے مُحَمَّد برائے مُحَمَّد[1]

وضاحت: اَللهُ اَكْبَر! د نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک سره څومره ښکلے نسبت دے چې هغوئ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک د شان او عظمت مظهر دے او الله پاک د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خُدائے دے، د نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ژوند هره يوه ساه د هغوئ د رَبّ د پاره ده۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1 ... حدائقِ بخشش ، صفحہ:66۔

(2): د آيت مبارک دوهمه معنیٰ

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! علمائے کرامو چې د دې آيت مبارک کومه دوهمه معنیٰ ذِکر کړې ده، د هغې مطابق پۀ دې آيت مبارک کښې د رسولِ ذِيشان، مکي مدني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 63 کاله ظاهري ژوند مبارک پۀ 2 حصو کښې تقسيم کړے شوے دے (1): يوه حصه د نبوت د اِعلان نه مخکښې ده، (2): دوهمه حصه د نبوت د اِعلان نه پس ده- الله پاک فرمائي:

وَ وَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰى ۪ۙ (پارہ:30، سورۂ والضحیٰ:7)	[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او هغۀ تۀ پۀ خپله مينه کښې ورک وموندلې نو خپل طرف ته يې لار درکړه-

دا دوه حصې دي: (1): د نبوت د اِعلان نه مخکښې چې کومه حصه ده، د هغې پۀ باره کښې فرمائي:

وَ وَجَدَكَ ضَآلًّا

يعني اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو د ظاهري ژوند مبارک چې کوم ورځومبي 40 کلونه دي، پۀ دې کلونو کښې تاسو زمونږ پۀ محبت کښې ډېر ورک وئ (2): بيا د دې نه پس د ژوند مبارک دوهمه حصه يعني د نبوت د اِعلان او د دې نه پس ژوند مبارک شروع شو، د هغې پۀ باره کښې يې وفرمائيل:

فَهَدٰى ﴿۷﴾

يعني اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! پۀ محبت کښې د ورکېدو نه پس هٰغه موده شروع شوه چې الله پاک ستاسو طرف ته وحي راولېږله او عَلَّمَكَ مَالَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ يعني و يې ښودل تاسو ته، د کوم څۀ نۀ چې تاسو نۀ وئ خبر۔ (1)

سُبْحٰنَ الله! د قرآنِ کریم جامِعِیَّت ته وګورئ! دې کمال ته وګورئ! 63 کاله ظاهري ژوند مبارک دے، قرآنِ کریم د دې ټول ژوند مبارک پوره نقشه صرف پۀ یو څو الفاظو کښې جوړه کړه ❁ د نبوت د اِعلان نه مخکښې چې کوم ژوند مبارک دے، هغه هم بے مثاله او کمالي دے، د نبوت د اِعلان نه پس چې کوم ژوند مبارک دے، هغه هم بے مثله او بے مثاله دے، فرق صرف دومره دے چې پۀ مخکښې 40 کالو کښې د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شانونو نه الله پاک خبر وو، خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به صرف د الله پاک پۀ محبت کښې ورک وو ❁ د نبوت د اِعلان نه پس چې کوم 23 کاله دي، پۀ هغې کښې د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شانونو پۀ مخلوق باندې هم اظهار وشو، کله چې د نبوت اِعلان وشو، بیا خلقو ❁ پۀ اِشاره باندې سپورمی هم دوه ټوټې ولیدله ❁ پرېوتے نمر يې پۀ راګرځېدو هم ولیدلو ❁ ونې او ځناور يې د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خِدمت کښې پۀ سجدو کولو هم ولیدل، دا 23 کاله هٰغه وو، چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کمالاتو څۀ لګ شان اظهار پۀ مخلوق باندې هم کېدلو۔

---

1 ... تفسیر روح المعانی، پارہ:30، سورۂ ضحیٰ، زیرِ آیت:7، جلد:15، صفحہ:351 خلاصۃً۔

د ضَالّ لفظ صحيح وضاحت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په دې آيت کښې چې کوم لفظ اِستعمال شوے: **ضَالّ** د دې صحيح ترجمه څه ده؟ **د الله پاک په محبت کښې ورکېدل**- دا په ذِهن کښې کښېنوئ! هسې په عام توګه چې زمونږ په شان د عامو اِنسانانو د پاره دا لفظ وئيلے شي خو د دې معنىٰ وي: **ګمراه**- خو په دې ځائے کښې دا لفظ د محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاره اِستعمال شوے دے، په دې ځائے کښې دا معنىٰ هيڅکله هيڅکله هم نشي کېدے، په دې ځائے کښې د دې معنىٰ څه ده؟ **د الله پاک په محبت کښې ورکېدل**- الله پاک په قرآنِ کريم کښې اِرشاد فرمائي:

مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوٰى ۝ (پاره:27، سورۂ النجم :2)	[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: ستاسو صاحب نۀ تېروتلے او نۀ په کږه لاره تلے-

معلومه شوه چې د محبوب نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ژوند مبارک کښې يو سيکنډ بلکې د سيکنډ کروړمه حصه هم داسې نشته، په کومه باندې چې ګمراه لفظ وئيلے کېدے شي، خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګمراهانو ته د لار ښودلو د پاره تشريف راوړے دے، هغوئ هادي دے، راهنما دے، اِمام دے بلکې د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام اِمام دے-

د 40 کلن ژوند مبارک اهميت

يو ځل غېر مسلمو د محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګستاخي اوکړه، الله پاک وفرمائيل: اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! دوئي ته ووايئ!

فَقَدْ لَبِثْتُ فِيْكُمْ عُمُرًا مِّنْ قَبْلِهٖؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۶﴾ (پارہ:11، سورۂ یونس:16)	[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: نو بے شکه ما د دې نه مخکښې پۀ تاسو کښې یو عمر تېر کړے دے، نو آیا تاسو عقل نۀ لرئ؟-

یعنې اے غېر مسلمو---!! آیا تاسو عقل نۀ لرئ؟ پوهه نۀ لرئ---؟ د محبوبِ ذِیشان، مکي مدني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 40 کاله ژوند مبارک ستاسو پۀ مخکښې تېر شو، د دې پۀ یو یو منټ باندې لږ غور اوکړئ---!! تاسو ته به پخپله معلومه شي چې د دواړو جهانو د آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ شان رښتونے پۀ زمانه کښې چرته هم نشته-

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا د محبوبِ ذِیشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هٰغه 40 کاله ژوند مبارک دے، کوم چې الله پاک د قرآنِ کریم د رښتوني کتاب کښدو او د رسولِ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رښتوني رسول کښدو دلیل جوړ کړے دے، معلومه شوه چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هٰغه 40 کاله ژوند مبارک هم کم اهم نۀ وو، پۀ هغې کښې هم د هغوئ شانونه وَرَاءُ الوَرَاء وو-

هٰغه ژوند مبارک څنګه وو---؟ راځئ چې واورو:

د پېدا کښدو سره یې سجده اوکړه

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مور جانه بي بي آمنه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي:

کله چې زما د سترګو تور (حضرت مُحَمَّدِ مصطفےٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) دُنیا ته تشریف راوړلو نو ما ولیدل چې هغوئي د سجدې په حالت کښې دے، د شهادت ګوته یې د اسمان طرف ته اوچته کړې ده، ګویا هغوئي د خپل رَبّ په حُضُور کښې د بندګۍ اِظهار فرمائیلو او خواستونه یې کول۔ (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے--!! اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکلي دي:

پہلے سجدہ پہ روزِ ازل سے درود | یادگارئ اُمّت پہ لاکھوں سلام (2)

وضاحت: یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! تاسو د خپل پیدائش په ورځ چې کومه وړومبۍ سجده د الله پاک په حُضُور کښې اوکړه په هغې باندې دې زمونږ د طرف نه درود وي، ستاسو د خپل اُمت د یاد ساتلو په داسې ادا باندې دې په لکونو سلامونه وي۔

الله پاک ته د ټولو نه زیات نزدې حالت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په قرآنِ کریم کښې د دې خبرې ذِکر دے چې د سجدې کولو سره د الله پاک قُرب نصیب کیږي او په **حدیثِ پاک** کښې اِرشاد دے: **بنده خپل رَبّ ته د ټولو نه نزدې هغه وخت وي کله چې سجده کوي۔** (3)

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفےٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې څنګه دُنیا ته تشریف راوړلو نو

1... مواہب اللدنیہ، المقصد الاول، آیات ولادتہ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، جلد:1، صفحہ:66۔

2... حدائقِ بخشش، صفحہ:305۔

3... مسلم، کتاب الصلاۃ، باب ما یقال فی الرکوع والسجود، صفحہ:183، حدیث:482۔

سجده يې اوکړه، د دې نه معلومه شوه چې هغوئ د الله پاک سره بے حده محبت کولو او د قرب الهي منزلونه يې د پيدا کېدو سره طے کړي وو-

د سجدو عادت جوړ کړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! په دې کښې زمونږ د پاره هم سبق دے، زمونږه ذِيشان آقا، رسولِ خُدا، مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هٰغه اوچته مرتبه لري چې هغوئ د پيدا کېدو سره د الله پاک په حُضُور کښې سجده اوکړه--- او اوسني اُمتيان---!! افسوس! مونږ 5 نـمونځونه هم پوره نۀ کوو، مونږه حديثِ پاک واورېدو: بنده الله پاک ته ډېر نزدې هٰغه وخت وي، کله چې سر په سجده کښې کېږدي- افسوس چې مونږ سجدې نۀ کوو- کول پکار دي! سجده افضل ترين عبادت دے ❁ نـمونځونه کوئ، د دې په ذريعه به د سجدو کولو سعادت نصيب کيږي ❁ نفلونه کوئ، د سجدو سعادت به نصيب کيږي ❁ سجدۀ شُکر ادا کوئ ❁ تِلاوت کوئ، د سجدې والا آيتونه لولئ او سجدې کوئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! ثواب به هم مېلاؤ ېږي، د الله پاک قُرب به هم نصيب کيږي او که الله پاک وغوښتل نو د دُنيا پريشانۍ به هم ختمې شي-

په جَنَّت کښې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډ

حضرت رَبِيعَه اَسلمي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ صحابي دے، د هغوئ مشهوره واقعه ده، يو ځل هغوئ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې د اوداسۀ د پاره اوبۀ پېش کړې، محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوشحاله شو او وه يې فرمائيل: سَلْ! اے ربيعه! غواړه!

ما عرض اوکړو: اَسْاَلُكَ مُرَافَقَتَكَ فِي الْجَنَّةِ يعني يَا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زۀ ستاسو نه پۀ جَنَّت کښې ستاسو ګاؤنډ غواړم- (1)

سائل ہوں ترا، مانگتا ہوں تجھ سے تجھی کو | معلوم ہے مجھ کو تری اِقرار کی عادت

پۀ دې باندې رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: فَاَعِنِّي عَلٰى نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْدِ يعني پۀ ډېرو سجدو کولو سره پۀ خپل نفس باندې زما مدد اوکړه! (2)

مالک ہیں خزانۂ قُدرَت کے، جو جس کو چاہیں دے ڈالیں

دی خُلد جنابِ رَبیعہ کو، بگڑی لاکھوں کی بنائی ہے (3)

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې **ډېرې سجدې کول** پۀ جَنَّت کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډ ورکوونکے عمل دے- څومره اسان عمل دے--!! ډېرې سجدې کول دي، مونږ روزانه پينځه وارې نمونځونه (فرض، سُنَّت او نفلونه وغېره چې يو ځائے کړې ټول) ادا کړو نو 48 رکعتونه جوړېږي، پۀ هر رکعت کښې 2 سجدې، دا ټولې 96 سجدې شوې، ورسره که د تهجدو زيات نۀ وي نو 2 نفلونه يو ځائے کړئ! 100 سجدې شوې، د اِشراق او څاښت کم از کم 4 رکعتونه نور شامل کړئ! 108 سجدې شوې، د اوابينو 6 نفلونه ورسره شامل کړئ! 120 سجدې شوې، 2 رکعته صلاةُ التَّوبه اوکړئ! پۀ

1... مسلم، کتاب الصلاة، باب فضل السجود و الحث علیه، صفحه:184، حدیث: 489 ملتقطًا۔

2... مسلم، کتاب الصلاة، باب فضل السجود و الحث علیه، صفحه:184، حدیث:489۔

3... دیوانِ سالک، صفحه:52۔

ورځ کښې د یو نـمونځ سره د تَحِيَّةُالوُضُو نـمونځ اوکړئ! د تحيةُالمسجد 2 نفلونه هم اوکړئ! دا ټولې 132 سجدې شوې، په قرآنِ کریم کښې د سجدې آیتونه 14 دي، دا 14 واړه آیتونه چې ولولې او 14 سجدې اوکړې نو حاجتونه پوره کیږي، د دِین او د دُنیا د هر حاجت پوره کېدو د پاره بهترینه وظیفه ده، [1] تقریبا د 10 نه تر 12 منټو پورې وخت پرې لګي، د سجدې آیتونه ولولئ او 14 سجدې اوکړئ! دا ټولې 146 سجدې شوې، کومې چې مونږ دپرې په اسانۍ سره په ورځ کښې کولے شو۔

کار څومره اسان دے، که چرې مونږ د دپرو سجدو عادت جوړ کړو نو د دې سره به څۀ مېلاؤېږي؟ د الله پاک قُرب او په جَنَّت کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډۍ--!! سُبْحٰنَ الله!

وہ تو نہایت سستا سودا بیچ رہے ہیں جنّت کا
ہم مفلس کیا مول چُکائیں اپنا ہاتھ ہی خالی ہے [2]

وړومبي الفاظ مبارک

بي بي حليمه سعديه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي: محبوبِ ذِيشان، مکي مدني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کله د خبرو کولو عمر مبارک ته ورسېدو نو هغوئي چې د ټولو نه وړومبے کومه جمله په خُله مبارکه باندې ادا کړه هغه دا وه:

1... در مختار، کتاب الصلاۃ، باب سجود التلاوۃ، صفحہ:105 مفصلًا۔

2... حدائق بخشش، صفحہ:186۔

اَللّٰهُ اَكْبَرُ كَبِيْرًا، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَسُبْحَانَ اللّٰهِ بُكْرَةً وَّاَصِيْلًا

(الله د ټولو نه لوئي دے، ټول تعريفونه بيا بيا هم د الله پاک د پاره دي کوم چې د ټولو جهانونو رَبّ دے او سحر او ماښام د الله پاکي ده)- [1]

نور فرمائي: د شپې چې به کله نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارام فرمائيلو نو دا اواز به راتللو: لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ قُدُّوْسًا، نَامَتِ الْعُيُوْنُ وَالرَّحْمٰنُ لَا تَاْخُذُهٗ سِنَةٌ وَّلَا نَوْمٌ (د الله پاک نه علاوه هيڅ معبود نشته کوم چې ډېر د پاکۍ والا دے، زمونږ پۀ سترګو کښې خوب راغلو خو رحمان هغه دے، کوم له چې نۀ خوب ورځي او نۀ پرکالي ورځي)- [2]

سُبْحٰنَ الله! څومره لوئي شان دے--!! اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي دي:

اللہ! اللہ! وہ بچپنے کی پھبن!	اس خُدا بھاتی صُورت پہ لاکھوں سلام [3]

دا د کمال خبره ده، اخوا دېخوا ټول ماحول د شِرک والا دے، څوک ستورو ته سجدې کوي، چا د نمر نه خُدائے جوړ کړے دے، څوک د ونو او کاڼو عبادت کوي، پۀ داسې ماحول کښې د محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څومره ځانګړے ماشومتوب وو، هغوئي چې څنګه دُنيا ته تشريف راوړلو نو سجده يې اوکړه، چې د خبرو کولو عمر ته ورسېدو نو د الله پاک نوم اخلي، معلومه شوه چې ❁ محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم د شروع نه د معرفت اوچت

1... دلائل النبوة للبيهقي، باب ذكر رضاع النبي صلى الله عليه وآله وسلم، جلد:1، صفحه:139 و140۔

2... تاريخ الخميس، ذكر ارضاع الاظار و عددها وما وقع عند حليمه، جلد:1، صفحه:413۔

3... حدائقِ بخشش، صفحه:306۔

مقام ته رسېدلے وو ❁ هغوئ ته دا هم معلومه وه چې الله پاک موجود دے ❁ دا ورته هم معلومه وه چې الله پاک يو دے ❁ دا ورته هم معلومه وه چې هغه د ټولو نه لوئ دے ❁ دا يې هم پيژندل چې هغه د هر قسمه نقص او عيب نه پاک دے ❁ د دې نه هم خبر وو چې ټولې خوبيانې هم د الله پاک دي او ❁ د دې نه هم خبر وو چې که ټول تعريفونه د چا کېدے شي نو هغه صرف د اللهرَبُّ الْعٰلَمِين لوئ ذات دے۔

بچو ته " الله " وئيل زده کړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دلته هم زمونږ د پاره سبق دے۔ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې په خُله مبارکه باندې کوم وړومبے لفظ ادا کړو: " الله " زمونږ د اُمتيانو بچي وړومبے څۀ وائي؟ د ايکټرانو نومونه؟ د سندرو الفاظ؟ د ټِک ټاک او يوټيوب وغېره په کتو ګډې وډې خبرې زده کوي؟ افسوس چې هٰغه ماشومان کوم چې په خپلو خبرو هم نۀ پوهېږي، نن سبا مئېندې د خپلې اسانۍ د پاره، د هغوئ د منولو د پاره سندرې سازونه وغېره لګوي او د هغوئ مخې ته يې ږدي، نتېجه يې څۀ راوځي؟ چې ماشوم د خبرو کولو شروع هم د څۀ غلط لفظ نه وکړي۔

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** خپلو بچو ته " الله " لفظ وئيل زده کړئ! او کوشش کول پکار دي چې ماشوم کوم وړومبے لفظ وائي، هغه د الله پاک نښکلے خوږ نوم وي۔

پۀ حديثِ پاک کښې دي: د خپلو ماشومانو پۀ ژبو د ټولو نه وړومبے لَآ اِلٰهَ اِلَّا الله وايئ! [1]

---

1 ... شعب الايمان، الستون من شعب الايمان وهو باب فی حقوق الاولاد والاہلين، صفحه:398، حديث:8649۔

دا به څنګه کیږي؟ کله چې مونږ د ماشومانو په مخکښې "الله، الله" کوو- د امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه نمسی صاحبه چې کله وړه ماشومه وه، هغوئ ټول کور والؤ ته فرمائیلي وو چې د دې په مخکښې د "الله، الله" ذِکر کوئ- هغوئ به پخپله هم د نمسی په مخکښې د الله پاک ذِکر کولو، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د هغوئ نمسی چې کله وړومبے لفظ ووئیلو نو هغه د الله پاک ښکلے خوږ نوم "الله" وو- (1)

مونږ له هم کوشش کول پکار دي چې اَلْحَمْدُلِلّٰه! مونږه هم مسلمانان یو، د الله پاک منونکي یو، که چرې مونږه هم خپلو بچو ته "الله" وئیل نۀ ښایو نو نور به یې ورته څوک ښائي--!! الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د ماشومتوب مبارک یو څو اداګانې

ابو طالب کوم چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ترۀ دے، د هغوئ د ډېرې مودې پورې د مکې مدني، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خِدمت سعادت نصیب شو- هغوئ وائي: ما به مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل ځان سره ساتلو، یوه شپه ما ووئیل: تاسو خپل قمیص اوباسئ او زما سره هم زما په بستره کښې څملئ! په دې اوږدو د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نُوراني مخ باندې د ناخوښۍ نخښې ښکاره شوې خو زما خبره یې قبوله کړه او وه یې فرمائیل: کاکا جانه! مخ واړوئ! زۀ قمیص اوباسم، ما ته مۀ ګورئ-

---

1... تربیتِ اولاد، صفحہ:100۔

ابو طالب وائي: زۀ ډېر حېران شوم- خېر! ما مخ بل اړخ ته واړولو- رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قمیص مبارک وویستو او پۀ بستره کښې څملاستو- بیا چې کله زۀ پۀ بستره کښې څملاستم نو څۀ ګورم چې د هغوئي او زما پۀ مینځ کښې یوه کپړه ایښودے شوې ده- نور وائي: د د دواړو جهانو د سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وجود مبارک ډېر نرم وو، خوشبویاني به تري داسې تللې ګویا اوس اوس یې پۀ مشکو لامبلي دي- ما د هغوئي وجود مبارک ته د کتو کوشش اوکړو خو وه مې نۀ لیدلے شو- نور وائي: ډېر ځل داسې وشول چې د شپې به مې ناڅاپې سترګې وغړېدلې نو هغوئي به پۀ بستره کښې موجود نۀ وو، زۀ به پاڅېدم، اخوا دېخوا به مې لټون شروع کړو نو هم د بسترې نه به یې اواز راکړو: کاکا جانه! زۀ خو هم دلته یم، تاسو مې چرته لټوئ۔ ډېر ځل د نیمې شپې به یې داسې ذِکر کولو چې زۀ به ورته د حېرانتیا پۀ وجه ګوته پۀ خُله پاتې شوم- مونږ به چې کله ډوډۍ خوړله یا اوبۀ به مو څښلې نو د الله پاک نوم به مو نۀ اخستو خو د نبي اُمّي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارک وو چې د خوراک پۀ شروع کښې به یې بِسمِ الله وئیله او پۀ اخره کښې به یې اَلْحَمْدُلِلّٰه وئیله ❁ پۀ ماشومتوب مبارک کښې به هم نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دروغ نۀ وئیل ❁ پۀ کړس کړس به یې نۀ خاندل ❁ نۀ به یې د جهالت والا څۀ کار کولو ❁ د ماشومانو سره به د لوبو کولو د پاره هم نۀ تللو۔ (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا دے زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلے ښکلے ماشومتوب مبارک--!! نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې څنګه

1... تفسیر کبیر، پارہ:30، سورۂ ضحیٰ، زیرِ آیت:6، جلد:11، صفحہ:196 ملتقطًا۔

دُنيا ته تشريف راوړلو نو سجده يې اوکړه ❁ هم د ماشومتوب نه به يې د الله پاک ذِکر کولو ❁ د شپې به چې اودۀ کېدلو نو د زړۀ مبارک نه به يې د ذِکر اواز راتللو ❁ څۀ به چې يې خوړل، څښل نو د الله پاک نوم به يې اخستو- غرض دا چې هم د ماشومتوب نه به د الله پاک پۀ محبت کښې مشغول وو-

د وړومبۍ وحي نه لږ مخکښې حالات

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 40 کاله ژوند مبارک پۀ داسې محبت او عشق کښې تېر شو، د وړومبۍ وحي د راتلو نه څۀ موده مخکښې د هغوئ پۀ زړۀ کښې د تنهايۍ محبت اچولے شوے وو، هٰغه وخت د الله پاک محبت ګويا ښه پۀ جوش کښې وو، هغوئ به د الله پاک پۀ محبت کښې کور کلے پرېښودو، د خوراک سامان به يې د ځان سره واخستو او غارِ حِرا ته ته به لاړلو او د ډېرو ورځو پورې به پۀ تنهايۍ کښې ناست وو او د الله پاک پۀ عبادت کښې به مصروفه وو- **پۀ روايتونو کښې دي:** زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عمر مبارک 40 کاله شوے وو، د ربيع الاول د مياشتې نه د وحي نخښې ظاهرېدل شروع شوې، هغه داسې چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته رښتوني خوبونه وښودلے شو، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې کوم خوبونه ليدل د ورځې به بالکل هم هٰغه شان د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ مخکښې کېدل، تقريبا 6 مياشتې پۀ داسې انداز کښې تېرې شوې، بيا د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ زړۀ کښې د تنهايۍ محبت واچولے شو- د رَمَضَانُ الْمُبَارَك مقدسه مياشت وه، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ځان سره د خوراک څښاک څۀ سامان واخستو او غارِ حِرا ته يې تشريف يوړلو- پۀ مکه مکرمه کښې هٰغه وخت نور

غارونه هم وو [1] خو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غارِ حِرا ولې خوښ کړو، د دې ډېر ښکلے حِکمت علمائے کرامو لیکلے دے، فرمائي: **هٰغه وخت د غارِ حِرا نه کعبه شریفه بالکل صفا پۀ نظر راتلله، ځکه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غارِ حِرا ته تشریف یوړلو-** [2]

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یو څو ورځې پۀ غارِ حِرا کښې قیام اوکړو، هلته د الله پاک پۀ یاد او پۀ عبادتونو کښې مصروفه وو، بیا یې کور ته تشریف راوړلو، د مسلمانانو خوږې مور جاني حضرت خُدیجه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا بیا د خوراک څښاک څۀ سامان وترلو، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بیا غارِ حِرا ته تشریف یوړلو- د ډېرو ورځو پورې دا سلسله روانه وه-

دا د رَمَضَانُ الْمُبَارَك یوه شپه وه، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم پۀ غارِ حِرا کښې تشریف فرما وو چې د الله پاک پۀ حُکم حضرت جبریلِ امین عَلَيْهِ السَّلَام ورومبې وحي راوړله او حاضر شو- [3]

سُبْحٰنَ الله! هم دا پاک شان دے، د کوم چې دلته ذِکر وشو:

وَ وَجَدَكَ ضَآلًّا فَهَدٰى ۪ۗ (پارہ:30، سورۂ والضحیٰ:7)	[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او هغه تۀ پۀ خپله مینه کښې ورک وموندلې نو خپل طرف ته یې لار درکړه-

1... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:3 مفصلًا-

2... ارشاد الساری لشرح صحیح البخاری، کتاب بدء الوحی، جلد:1، صفحه:90، تحت الحدیث:3-

3... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:66، حدیث:3 خلاصةً-

الله پاک دې د خپل محبوبِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وسيله زمونږ د ګنهګارانو هم خپل محبت او مينه نصيب کړي- اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د الله پاک د محبت موندلو نُسخه

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د والد صاحب حضرت مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د فرمان خُلاصه ده: څوک چې **د الله پاک د محبت** طلب ګار دے، خپل زړۀ دې د باطِني بيمارو نه پاک کړي، که الله پاک وغوښتل نو هغۀ ته به خپل محبت عطا کړي- نور فرمائي: 9 څيزونه دي، کوم چې د الله پاک په محبت موندلو کښې مرسته کوي: (1): همېشه په اوداسۀ کښې د اوسېدو سره زړۀ روښانه کيږي (2): خلوت (يعنې ګوشه نشيني ، تنهائي) چې د خلوت په مرسته اِنسان د دُنيا د مشغلو نه وزګارېږي، د دې سره حواس ساکِن وي، په ځانله والي سره د الله پاک په يادولو، د زړۀ او دماغو په حاضرولو د الله پاک طرف ته د توجه کولو موقع مېلاؤېږي، خاص طور په تياره کور کښې چې وي نو خلوت ډېره فائده ورکوي، څوک چې په تياره کښې نشي کېناستے، هغۀ له پکار دي چې په سر باندې کپړه واچوي او سترګې پټې کړي، داسې دې په تنهايي کښې کښېني او الله پاک دې يادوي (3): سُکُوت يعنې خاموشي چې د خاموشي سره عقل روښانه کيږي، د پوهې او د ياد ساتلو قوت مضبوطېږي (4): لوږه (يعنې کم خوراک) (5): بېداري (يعنې کم اودۀ کېدل) (6): نفي خواطِر؛ يعنې زړۀ د فضول فِکرونو او خيالونو نه پاک ساتل (7): په هر حال کښې د الله پاک په رضا باندې راضي اوسېدل (8): فِکْرِ سالِم؛ يعنې د شرعي اُصُولو مطابق

د الله پاک د نِعمتونو، د هغۀ پۀ قدرتونو وغېره کښې غور کول (9): ذِکْرِ دائِم يعنې همېشه د الله پاک پۀ ذِکر کښې مصروفه اوسېدل۔[1]

دا 9 کارونه چې کوم کَس پۀ پابندیِ او اِستقامت سره کوي، د الله پاک د رحمت نه امید دے چې د هغې به د الله پاک محبت نصيب شي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! الله پاک دې د خوږ آقا، د دواړو جهانو د داتا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ وسيله مونږ ته پۀ خپل محبت کښې ژوند تېرول رانصيب کړي- اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د " ماهنامه فيضانِ مدينه " ايپلي کښن تعارف

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د دعوتِ اسلامي د آئي تي ډيپارټمنټ له خوا ماهنامه فيضانِ مدينه ايپلي کښن معارفي کړے شوے دے، پۀ دې ايپلي کښن کښې دا دوه بهترين آپشنز (Options) موجود دي: ❁ د مخکښنو ټولو ماهنامه فيضانِ مدينه PDF ❁ د ټولو ماهنامو مضامين (آرټيکلز) پۀ ليکلي شکل کښې موجود دي، کوم چې د کاپي کولو سره شېئر کېدے هم شي ❁ د اسانۍ د پاره سرچ آپشن (Search option) هم ورکړے شوے دے، د کوم پۀ مرسته چې د ماهنامې يو مضمون وغېره لټولے کېدے هم شي- تاسو هم دا ايپلي کښن پۀ خپل سمارټ فون کښې دا ايپلي کښن ډاؤن لوډ (Download)

---

1 ... انوار جمال مصطفےٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، صفحه: 417 خلاصةً۔

کړئ! پخپله ترېنه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ۔

اٰمِيْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د بيان پۀ اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پۀ کوته کول)

مسئله: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ پوره ليکل ضروري دي، د دې مُخَفَّف جوړول د سُنَّت خِلاف دي۔

وضاحت: دا طريقه اوس عامه کېږي چې د واټس اېپ يا ټېکسټ مېسج وغېره په ذريعه کله چې پۀ ليکلو سره سلام کول وي نو د هغې مخفف ***A.O.A*** ليکلے کيږي۔ هم داسې پۀ جواب کښې هم ***W.S*** ليکلے شي ۔ دا طريقه غلطه ده۔ شريعت چې د سلام کوم الفاظ ښودلي دي، هم هغه ټاکلے شوي دي۔ د هغې مخفف جوړول د سُنَّت خِلاف دي۔ ځکه د ***A.O.A*** د ليکلو سره به سُنَّت نۀ ادا کيږي او که چا د سُنَّت مطابق اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ ليکلے وي نو د هغې پۀ جواب کښې ***W.S*** ليکل د واجب پرېښودل ناجائزه او ګناه ده۔ [1]

1 ... دارالافتاء اہلسنت، فتوی نمبر: WAT2160۔

نوټ: د اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ مکمل لیکلو پۀ ځائے صرف لفظ سلام لیکل هم جائز دي۔ [1]

الله پاک دې مونږ ته د صحیح اِسلامي احکامو د زده کولو او پۀ هغې باندې د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

يَا مَلِكُ (اے (حقیقي) بادشاه---!!)

کوم غریب او مسکین ګس چې روزانه 90 کرته د الله پاک نښلے نوم **يَا مَلِكُ** لولي اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د غریبۍ نه به خلاصے وموي۔ [2]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

1... بهارِ شریعت، جلد:3، حصه:16، صفحه:465 خلاصةً۔

2... مدنی پنج سوره، صفحه:258۔